دنیکمرغه لوی اختر دراتللو په مناسبت دهیواد په ټودو سنګرونو کې پرتومجاهدینو.
اوخوارو وړو مهاجرینو ته دزړه له کومي دمبارکۍ مراتب وړاندي کوو

PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړی کال (٤١) ګڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دجوزا ۲۹مه

شاهراه کابل غزنی بروی قطارهای دشمن مسدود گردید

میدان شهر ، میدیا :
یك منبع مجاهدین به میدیا خبرداده است ، مجاهدین طی عملیات برچند پوسته رژیم درمنطقه ابراهیم خیل ولایت وردگ ، میدان بروز ۲۰ جوزا ۱۳ تن ازملیشه های رژیم را اسیر ٥ عراده تانك محاربوی فعال و ۳ عراده موتر نظامی دشمن رابه غنیمت گرفتند .
درهمین حال خبررسیده است کاروان اکمالاتی رژیم که قصد دارد از کابل بمنظور انتقال اکمالات به ولایت غزنی برود به اثر مواضع گیری مجاهدین متوقف وشاهراه مذکور درحال حاضربروی ترافیك مسدود گردیده است .

په خوست کې درژیم له ورکو جنرالانوڅخه یو بل جنرال هم دمجاهدینوپه لاس ورغی

په ۷مخ

دګردیز اوغزني دلارې کنترول دمجاهدینو په لاس کې دی

دجهاد هنداری خبریال چی اوس اوس په خوست اودګردیزدښار په شاوخواکی دالحاج جلال الدین حقانی له جبهاتو څخه یی لیدنه کړیده لیکی چی دالحاج حقانی دجبهاتومجاهدینو څه موده دمخه دګردیززرمت دلاری اداره په خپل لاس کی نیولی اوپدی وختو کی یی دګردیز- غزنی لاری کنترول هم په خپل لاس کی اخستی دی .
زموږ خبریال زیاتوی دالحاج حقانی دجبهاتو مجاهدین اوس دکابل کمونستی رژیم دالوتکو دوحشیانه بمباریو سره سره دګردیز په شاوخوا سیمو کی خپلی مورچی ټینګوی .
خبریال وایی زموږ زړورو مجاهدین پداسی حال کی چی دمورچو په جوړولو لګیاوو دخپلو راتلونکوجهادی بریالیتوبونو ته ډیر مطمئن اوډاډه دی .

الحاج مولوي جلال الدین حقاني دتحریك المسلمین له وفد سره په مرکه کې وویل :

دمجاهدینو په منځ کې بشپړ اتحاد او واحدې ستراتیژۍ دخوست فتحه لنډه اواسانه وګرځوله

۲ مخ کی

۱۷ تن از ملیشه های رژیم در کوه صافی به هلاکت رسیدند

کابل ، میدیا :
یك منبع مجاهدین ازکابل گزارش دادکه مجاهدین به روز ۲۲ جوزا بالای پوسته های منطقهء جارو، ابدره وسرك جدید کوه صافی عملیات انجام دادند که درنتیجه سه پوسته حریق ، دوعراده موتر نظامی وسه عراده تانك محاربوی تخریب و ۱۷ تن از ملیشه های رژیم به هلاکت رسیدند .
گزارش می افزاید که مجاهدین درین نبرد یك میل زیکویك وهفت میل سلاح خفیفه به غنیمت گرفتند .

دهرات په ولایت کې دمجاهدینو اومزدور رژیم ترمینځ جګړه روانه ده

هرات ، میډیا :
میډیا دهرات دولایت څخه دقوماندان اسمعیل خان دراډیویی پیغام په حواله خبر ورکړ چی دهرات مجاهدینو دزنده جان ولسوالی په ختیځه سیمه کی درژیم په قواوو باندی یوه راکټی حمله وکړه چی یوموټر یی داور لمبه کړی ۹ تنه کمونستان یی ووژلی ۱۷ تنه نوریی ټپیان کړی دي .
درپوټ مطابق مجاهدینو دجوزا په ۲۱ مه دکمونستی رژیم دقواو یوه حمله په زنده جان کی په شاه وتمبوله چی پکی یوټانك اویوموټر دسپرلیو سره داورلمبه کړی دی .
رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو دغه رازد زنده جان په شاوخواکی درژیم دقواو نه یوعراده ټانك دسپرلیوسره دمنځه وړی اوجګړه ددواړو خواو ترمنځ دوام لری .
همدارنګه دهرات له ولایت نه نوموړی قوماندان دیوه راډیویی پیغام په حواله (میډیا)ته رپوټ ورکړی چی دکابل رژیم یوه عراده جیپ موټر دپنځو تنو صاحب منصبانو سره دجوزا ۱٦ مه نیټه دهرات دښارپه شاوخواکی دمجاهدینو لخوا دیوځای پرځای شوی مین دچاودیدو له امله له منځه وړل شویدی .

مجاهدین دلیر حملات نظامیان رژیم کابل را درخواجه غار به عقب زدند

دفتر رسانه های خبری شورای سرتاسری قوماندانان جهادی به خبرنگار جهاد هنداره اطلاع داده است که مجاهدین سربکف اسلام حملات فرقه ٥۳ مربوط رشید دوستم وفرقه ٥٥ رژیم مزدور را که از تاریخ ۲۲ الی ۲٦ جوزا ادامه داشت ومیخواستند مواضع کوهی مجاهدین رادرولسوالی خواجه غار تصرف نماید به ناکامی مواجه ساخته است .
طی این عملیات ۱۳ عراده تانك و ۱۷ عراده لاری پر از مهمات رژیم ازبین رفته .
درراپور امده است که مجاهدین کوماندویی توانستند باتعبیه ماین ها دراطراف ونواحی فرقه ٥٥ وهمچنان دراثر ماین گزاری مجاهدین درمسیر راه قوای رژیم ۱٥۰ تا ۲۰۰ تن از افراد وملیشه رژیم مزدور رابه هلاکت برسانند .
راپور می افزاید درهلاك شده گان دوتن از جنرالان یکی بنام جنرال محمد امین معاون رشید دوستم ودیگری رئیس ارکان قوای کارد خاص رژیم شامل اند .
درراپور علاوه شده که روحیه طرفداران رژیم ضعیف شده وبه قرارگاهای شان فرار کرده اند .

دبلخ په ولایت کې دملحد رژیم یو صاحب منصب او ١٤ تنه ملیشه ژوندي نیول شوي

بلخ ، میډیا :
دبلخ له ولایت نه دمیډیا درپوټ مطابق مجاهدینو دجوزا په اتمه شپه دمزار شریف اوسمنګان په لویه لاره دخلم ولسوالی دتنګی تاشقرغان په سیمه کی درژیم پر ستراتیژیکی پوستو باندی عملیات ترسره کړل چی دهغی په نتیجه کی دکابل رژیم یو شمیر عسکراوملیشه مړه اودمحب-الله په نامه یو صاحب منصب د١٤ تنو ملیشو سره ژوندی نیول شوی.
رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جګړه کی دکابل دملحد رژیم له قواو نه یوه میل هاوان ، یوزیکویك ، دوه میله راکټ ، ١٤ میله کلاشینکوفونه ، دری پایی «آر . ۱۰٥ »توله مخابری ، دوه میله پیکا ماشیندار د ۲۰ صندوقه ګولیو سره ولجه کړیدی .

کابل رژیم ګردیز ته دنوو وسلو اوعسکرو لیږل پیل کړیدي

دکویټ یوی خصوصی محکمی اوه تنه په اعدام محکوم کړی

کویټ ، دبی ، بی ، سی راډیو :
په کویټ کی یوی نظامی محکمی دعراق له خوا دد ی هیواد د اشغال په وخت کی دعراقی پوځیانو سره دهمکاری په اتهام اوه تنه نور په اعدام محکوم کړی دي .
ددغه محکوم شویو کسانو څخه زیات شمیر فلسطینیان دی چی دعراق یوه نظامی اخبار لپاره یی کارکولو همدارنګه دکویټ دغی محکمی یوه کویټی ښځه هم دعراق له پوځونو سره په همکاری باندی متهمه کړی ده .
دکویټ دغه محکمی مخکی هم نوه تنه په اعدام محکوم کړی و چی دمحکوم شویو کسانو شمیر ۹ تنو ته ورسید .

یلتسین بحیث رئیس جمهور فدراسیون روسیه انتخاب شد

مسکو، ٢٤ جوزا :
آژانس خبررسانی تاس به قول رئیس کمیسیون انتخاباتی روسیه گزارش داد که بوریس یلتسین بحیث رئیس جمهور فدراسیون روسیه شوروی انتخاب گردید .
تاس علاوه نمود که وی ٦۰ فیصد ارای رای دهنده گان راکسب نموده است .
یلتسین دریك کنفرانس مطبوعاتی گفت که سعی خواهد کرد باگرباچوف روابطه حسنه داشته باشد.
وی گفت : پیروزی من نشاندهنده انست که درشوروی دموکراسی ایجاد گردیده و کمونست شکست خورده است.

دوردګو اومیدان په ولایت کی ددښمن له تعرضی قوی سره جګړه کی دمجاهدینو یو قوماندان په شهادت ورسید

میدان ښار ، میډیا :
دوردګو اومیدان له ولایت نه راغلی عینی شاهدانو دجوزا په ۲۲ مه نیټه میډیا ته رپوټ ورکړچی دکابل رژیم دقواوُ اکمالاتی قطار کله چی دعمومی سرك په ځای تیره هفته دمیدان ښار په لمر ختیزه دپاك اوشهاب الدین دلاری ددی ولایت دمرکز جنوبی سیمی «سره پله »ته ورسیده نو په شهاب الدین سیمه کی ورسره مجاهدینو سخته جګړه وکړه چی په نتیجه کی دمجاهدینو یو قوماندان قاضی عبدالمجید دیو تن مجاهد سره په شهادت ورسید . اناالله وانا الیه راجعون
خبر زیاتوی چی رژیم دغه اکمالاتی قوه چی دغزنی ولایت په لوردکابل څخه راروانه شوی وه دمیدان ښارد جنوب ۲ کیلومتری په «سره پله »کښی په ټپه ولاړه ده او دمجاهدینو دمقاومت په وجه دپرمختګ څخه لویدلی ده .

سرمقاله

دبشپړبرۍ په لارکې څنډونه اوځنډونه

داسلامی انقلاب دپیلامی اوادامی په بهیرکی زموږ مجاهد ملت دخدای (ج) درضا اعلای کلمة الله اوډالحاد، فساد دتیغرتولولواودروسی ښکیلاك له منګلو څخه دهیواد اوخلکودژغورنی لپاره ددین او وطن دښمنانوپه وړاندی دجهاد اومقاومت سنګرونه تاوده ساتلی اودبیدریغه مالی اوځانی قربانیو په وړاندی کولو سره یی داسلامی انقلاب بیوه بله ساتلی ده .
دجهاد اومبارزی په تیروڅخه دپاسه (۱۳) کلونو کی چی مؤمنو مجاهدینو دالله (ج) په نصرت کومی ستری فتحی اوبری ترلاسه کړی اوداسی ویاړلی کارنامی یی پریښی چی هغه به دتل لپاره دټول اسلامی امت لپاره دعبرت درسونه اوزموږ دتاریخ زرین بابونه وی ، هیڅوك ورڅخه انکارنشی کولی.

په ۸ مخ

موږ یوازې دالله تعالی دنصرت اومرستې له مخې جهاد کوو، دهغه اودغه دمرستې کولو یانه کولو له اړخه زموږ موقف نشې بدلیدلی (الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : ۱۳٦۹ هـ ش

دملګرو ملتونو ورانديز شکونه ، ګوابنونه او اميدونه

جرأت جهادګر

پدی وختونو کی دافغانستان دربړی دسیاسی حل ترعنوان لاندی یولړ داسی فعالیتونه په لاره اچول شوی چی دشکونو ، امیدونو اوګوابنونو ګڼه هنګامه یی توده کړیده .

دحالاتو اوجریاناتو له دقیق مطالعی څخه څرګندیږی چی اوس اوس په قضیه کی ذیدخل بهرنی اړخونه غواړی ددغه ربړی دحل په رابطه خپلو پریکړو او سازشونو ته عملی جامه ورواغوندی .

دابنکاره خبره ده چی دروسی پوځونو له وتلو وروسته له یوی خوا دمجاهدینو دقیادتونو دبی اتفاقی له اړخه اوله بلی خوا دبهرنیو پټو اوبنکاره لاسوهنو له امله دمجاهدینو یقینی بشپړیری دځنډ او خنډ له ستونزو سره مخامخ کړی شو له همدی ځایه ؤ چی استعمار ته پدی رابطه دفعالیت اوبیشرمانه لاسوهنو زمینه برابره شوه اودپټو اوبنکاره سازشونو بازار ښه ګرم شو.

دقضیی دسیاسی حل په رابطه وروستی هنګامه هغه وخت نوره هم توده کړی شوه چی دخوست له فتحی وروسته درژیم دحتمی سقوط په رابطه ټول شکونه په یقین بدل شول .

له همدی ځایه وه چی روسی اخبارونو هم پخپلو تبصرو کی ددغه ټکی څرګندونه وکړه چی دخوست له فتحی وروسته دکابل رژیم پوځی ارګانونه دبی نظمی، اوګډوډۍ ښکارشوی اودوه ځله کوشش شویدی چی رژیم په یوه پوځی حرکت سره له پښو وغورځول شی.

دخوست فتحه چی په نړیواله سطحه یی دجهاد په رابطه دیو لړ بنیادی تحولاتو مخه پرانستله له بده شامته بیاهم دجهادی قیادتونو داختلافاتو په دوړو کی ستری مقاومت هومره ګټه ترلاسه نشوای کړای لکه څنګه چی ددغه فتحی عظمت دهغی غوښتنه کوله -دخوست له فتحی سره جوخت په جهانی سویه دقضیی دسیاسی حل په نوم یو لړ حرکتونه پیل شول خوخپله جهادی قیادتونه دځینو خاصو ملحوظاتو اوشخصی انګیزو اوذاتی مفاداتو په هوس کی لدی ستری اوتاریخی فتحی سره دښکاره بی تفاوتی له مخی دستری جفا مرتکب وګرځیدل.

په هرصورت موږدربړی په اړه په بین المللی سویه دوروستیو جریاناتو اوانکشافاتو په رابطه بحث کاوه چی کتونکو اومبصرینو په خپلو تحلیلونو کی دهغی لپاره مختلفی څیری او چوکاټونه په ګوتو کړیدی .

له وروستیو جریاناتو څخه څرګندیږی چی خبره تړله دیوی بهرنی مفاهمی اویا سازش په نتیجه کی رامنځ ته شوی اودغه مفاهمه دروس امریکا- ایران پاکستان اوسعودی ترمنځ دخبرو اودیپلوماتیکو فعالیتونو په مسیر کی بنه نیولی ده؟

نن سبا دوضعی له مطالعی څرګندیږی چی دافغانانو لپاره هغه په اصطلاح داسی حل غوره کړی شوی چی ددیارلس کلن جهاد له اهدافو سره یی څرګند تیری ګڼلی شی .

۷مخ کی

دمجاهدينو په منځ کې بشپړ اتحاد او واحدې ستراتيژۍ د خوست فتحه لنډه او اسانه وګرځوله

دتحريك انصارالمسلمين وفد له ازاد شوی خوست څخه دليدنی په وخت کی دخوست له فاتح سره مرکه کړی چی دبيدار دايجست دروان ميلادی کال دجون په ګڼه کی خپره شوی اوموږيې په پښتو ژباړلی ده .

پوښتنه : خوست څه وړد ۱۷ ورځینی جګړی په جریان کی فتحه شو .

ځواب : دا انګیرنه سمه نده چی خوست یواځی دځوورځنی جګړی په جریان کی فتحه شوی ،

دخوست دفتحه کیدو له پاره له څوکلونو راهیسی په پلان جوړونه کار کیده اودیوه منظم پروګرام لاندی مجاهدینو خپل پرمختګ ته دوام ورکاوه، پدی لړکی په لومړی سرکی له ګردیز سره دخوست رابطه قطع کړی شوه اوبیا خوست تر محاصری لاندی ونیول شو اودغه وړ دمحاصری کړۍ تنګیدله اومجاهدینو خپل پرمختګ ته دوام ورکاوه اوخپل سنګرونه یی ټینګول پدی کی دخوست شاوخوا پوستی اوپوځی قرارګاوی مجاهدینو ترحملو لاندی ونیولی او یو په بله پسی دغه پوستی اوقرارګاوی فتحه شوی- وروسته پرهوایی ډګر عملیات پیل شول او هوایی ډګر فلج شو، له همدی ځایه وه چی مجاهدینو دخوست پر دفاعی خطونو حمله وکړه او هغه یی مات اوله منځه یووړل اودغه وړ خوست دمجاهدینو له خوا فتحه شو.

پوښتنه : ستاسی په نظر دخوست دفتحی اغیزمن عامل کوم ؤ ؟

ځواب : دمجاهدینو په منځ کی بشپړ اتحاد اوواحدی جنګی ستراتیژی دخوست فتحه لنډه او اسانه وګرځوله.

پوښتنه : موږ اوریدلی چی دغنیمت په ویش څه اختلافات رامنځ ته شوی ؟

ځواب : داخبره هیڅ حقیقت نلری، له فتحی وروسته دمجاهدینو ترمنځ اتحاد نور هم پیاوړی شوی او مجاهدین په ازاد خوست کی دوروڼو په څیر په متحدانه توګه دواحدی اداری په چوکاټ کی کارکوی .

داختلافاتو خبره داسلام دښمنه قوتونو هغه پروپاګنډه دی چی غواړی دخوست پرتمینه فتحه دخپلو بی اساسه تبلیغاتو په څپو کی ونغاړی .

پوښتنه : دخوست دامنیت اونظم له پاره تاسی څه ډول اقدامات کړی ؟

ځواب : په خوست کی دپاکستان له سرحد څخه نیولی تر ګردیزپوری څودسیمو داداری او امنیت مرکزونه اومسوولین ټاکل شوی چی ددوی په مرسته یوه شورا هم جوړه شوی چی ډیرژر به خپل دفترونه فعال کړی د۳۵۰ تنو په شاوخوا کی امنیتی ځواك هم جوړشوی چی پدی کی دټولو جهادی قوتونو افراد برخه لری او دخوست امنیتی چاری ددوی له خوا اداره کیږی له خوست څخه تر ګردیزد لاری دامنیت ټینګښت هم ددوی په غاړه دی .

پوښتنه : دخوست په جګړه کی جهادی تنظیمونوڅومره ونډه لرله ؟

ځواب :- ددی کوم ټاکلی شمیر نه دی شوی رښتیا خبره داده چی ټولو لږ اوډیره برخه اخیستی خو زموږ دمجاهدینو شمیردنوررو ټولوتنظیمونو له مجموعی شمیر څخه ډیر زیات ؤ زموږ له (۳۰۰۰) تنو څخه زیاتو مجاهدینو په جګړه کی برخه لرله زموږ دجهادی غونډونو هریودسلمان فارسی (رض)غونډ ، حضرت عمر (رض) غونډ (ژوره) دزرهدارو غونډ ، ابو جندل غونډ مجاهدینو په جګړه کی فعالهبرخه اخیستی ده .

> دخوست دفتحه کیدولپاره له څوکلونو راهیسي په پلان جوړونه کارکیده اودیو منظم پروګرام لاندي مجاهدینو خپل پرمختګ ته دوام ورکاوه

دپکتیا دټولو جهادی قوتونو قومانده او دقوماندانانو دشورا مشری تراوسه هم زما په غاړه ده ، په هرصورت دلته دمجاهدینو په منځ کی هیڅ ډول اختلافات نه لیدل کیږی چی دشمیراو تناسب سوال رامنځ ته کړی شی .

پوښتنه :داامکان لری چی دمجاهدینو دعبوری حکومت مرکز خوست ته انتقال شی پدی هکله څه پروګرام شته که څنګه ؟

> دخوست له فتحي وروسته دمجاهدينو ترمنځ اتحاد نورهم پياوړي شوي اومجاهدين په آزاد خوست کي دوروڼو په څيرپه متحدانه توګه دواحدي اداري په چوکاټ کي کارکوي

ځواب : عبوری حکومت په پیښور کی دی له هغی سره زما کومه ځانګړی رابطه نشته زما په خیال دنجیب له رژیم سره دکوم متوازی حکومت اعلان اوقیام دمجاهدینو له پاره دومره ګټورنشی ثابتید لی .

پوښتنه : دجهادی قوماندانانو شورا څه ډول فعالیتونه ترسره کوی ؟

ځواب : دجهادی قوماندانانو دشورا اساسی کار په بیلا بیلو محاذونو کی دجګړی تنظیمول اودازادوشویو سیمو دامنیت ساتل اودواحدو ادارو جوړول دی .

پوښتنه : مجاهدین په مختلفو ځایونو کی دجګړی په ځای ولی پر کابل دیوی ستری حملی اقدام نه کوی ؟

ځواب : پرکابل حمله کول دومره ګران کار ندی خو له حملی مخکی دځینو ربړواو .مسایلو حل کول ضروری دی اصلی خبره دکابل دولسی خلکو ده موږ غواړو چی هغوی ته دجګړی په جریان کی تاوان ونه رسیږی له ښار څخه دهغوی ایستل هم ګران کار دی ځکه په نورو سیمو کی هم داسی ځای نه لیدل کیږی چی دکابل اوسیدونکی چی شمیر یی له ۳۵ لکو څخه زیات دی هلته ځای په ځای کړی شی بله خبره داچی له حملی مخکی دیوی واحدی اداری جوړیدل ډیر ضرورت دی .

پوښتنه : دبهرنیو مرستو دبندیدوله اړخه څه ډول ربړی راپیداشویدی ؟

ځواب : موږ یواځی دالله تعالی دنصرت او مرستی له مخی جهاد کوو دهغه او دغه دمرستی کولو یا نه کولو له اړخه زموږ موقف نشی بدلیدلی ، په خوست کی دجګړی په جریان کی دمجاهدینو لخوا استعمال شوی ۱۱ ټانکونه روسی ټانکونه وو نه امریکایی .

پوښتنه : دخوست دبیا ابادونی په رابطه څه اقدامات شوی که څنګه ؟

ځواب : دروغتونونو مدرسو او ښوونځیو دفعالیدو په رابطه کارشروع شوی څوك چی دجګړی له امله له خپلو کورونو څخه وتلی دی هغوی ته موږاعلان کړی چی بیرته خپلو کورونو ته راشی پدی هکله مجاهدین له دوی سره هرډول مرستی ته تیار دی .

دزراعتی چارو په رابطه هم موږ په پروګرام جوړولوکارکوو اودلارو په جوړولو هم کار کیږی .

پوښتنه : له شیعه مذهبو افغانانو سره چی کوم اختلافات وو هغه حل شوی؟

ځواب : له عبوری حکومت سره دشیعه مذهبه ورونړو څه اختلافات ووچی زه دهغی په هکله زیات معلومات نلرم خودجهادی قوماندانانو له سرتاسری شورا سره هغوی هیڅ ډول اختلاف نلری ، دهغوی استازو ته په شورا کی مناسبه برخه ورکړی شویده .

طاغوتي ځواکونه دمسلمانانودبې لارې کولو لپاره له کومو وسیلو څخه کاراخلي؟

مولانا عبدالمجید

په روانه پیړۍ کې دکفری نړۍ پرګنو چې داسلام زرین تاریخ ولید اودمسلمانانو عمل یې دهغوی دعقیدې په اصول بررسی کړ ورته څرګنده شوه چې دیو ریښتینی باعلمه اوواقعی مسلمان داسلام دلارې څخه اړول او په بل مسلك کې یې راګیرول اواخته کول امکان نلری .

اوپه دی مادی نړۍ ورته دمسلمانانو دښکیلولو بله لاره چاره په نظر ورنغله ، داسلام دتغیر نه منونکی قانون په موجودیت کې یې دمسلمانانو ناکامی ارزیابی نکړای شوه اوخصوصا چې دجهاد اومبارزې په ډګرکی یې دمسلمانانو دراپرزولو رازونه وموند نوهاند یې وکړ چې یوه داسې نقشه ترغور لاندې ونیسي چې دهغې په پیاده کولو سره وتوانیږي چې مسلمانان په هماغه اړخ راوپرځوي چې دمصائبو اوبدبختیو ترپیتې یې لاندې کړای شي نوداسلام اومسلمانانو ځلاند تاریخ ته یې یو ځل بیا لاسونه دسوء استفادې کولو په قصد وروغځول اوداسلامی تاریخ رڼاکې یې دتیرو امتونو په حالاتواوکړو وړو دسره غور

اوپلټنه پیل کړه نوداسلام په تاریخ کې ورته دبلعم باعوداستان په نظر شو اودبلعم باعوقصه داسې ده : کله چې بلعم باعوته په وضاحت سره څرګنده شوه چې دی په ابدی غضب دقهار(ج) اخته شو نوبیا یې کافرانو ته مخ راواړاوه او ورته یې وویل چې تاسو ترهغه پورې په مسلم قوم برلاس کیدای نشی ترڅو چې ددوی په عمل اوعقیده باندې خلل وارد نکړی چې کله مو مسلمانان دیوې ګناه مرتکبین کړل بیاله دوی سره دنافرمانی په سبب دخداوند(ج) امداد کمیږی اود(صمد (ج) ذات) عذاب ورته متوجه کیږی نو ددې تاکتیك څخه په استفاده کولو سره به تاسو وکولای شی چې ددنیا کامیابی دمسلمان څخه واخلی چې نن دهمدغه شان دسیسو په جال کې زیات مسلمانان پریوتی دی .

دبلعم باعودوینا سره سم هغوی ښکلې لجونې راپیداکړې اودزیوراتو اونورو ډول ډول تکور شیانو په پلورلو یې ماموری کړې دغو لجونو خپل ځانونه داسې سمبال کړل څنګه چې ورته دستور ورکړشوی ؤ بالاخره چې یو پرځان نامتکی اوضعیف النفسه مسلمان ته شیطان دوکه ورکړله اودبدفعلی خواهش یې ورڅخه وکړیوی یې ورته په ډیره مینه لبیك وویل ترڅو چې یو بنی

> کله چې بلعم باعوته په وضاحت سره څرګنده شوه چې دی په ابدي غضب دقهار(ج) اخته شونوبیایی کافرانو ته مخ راواړاوه اوورته یې وویل چې تاسو ترهغه پوری پرمسلم قوم برلاس کیدای نشی ترڅوچې ددوی په عمل اوعقیده باندی خلل وارد نکړی

اسرائیلی په دی راز جرم باندی ککړ شو حضرت موسی (ع) داسې منع کاوه اماده منع نه شو اوپه دې شیطانی چال کې اخته شو ، ددې نافرمانی نتیجه داشوه چې په بنی اسرائیلو کې سخت طاعون خپور شواو دهغې په سبب په یوه ورځ کې ۷۰۰۰ بنی اسرائیلیان مړه شول اګر چې بنی اسرائیلو داسې اوښځه چې ناجائز جنسی عمل یې ترسره کړې ؤ قتل کړل اودلویې لارې په سرییې راځوړند کړل په همدې ډول په اوسني عصرکې داسلام تولو دښمنانو که په شرق کې دي اوکه غرب ، شمال کې دي یا جنوب ، داخلی دي که بهرنی دوی دهیڅ راز ګوزار څخه ډډه ونکړه اونه یې کوی خواکثر مسلمانان پخپل ځان لاخبر هم نه دی ځکه انسی اوجنسی شیاطینو دمسلمانانومخې ته دچل اوفریب ډیر دامونه ایښې دی چې یوه نه یوه کې نښلی اوبشری شیطانانو دخپلو

باداراانو یعنی جنسی شیطانانو په لارښوونه دمسلمانانو په اکثرو افرادو باندې داسې کودې اوسحر کړیدی چې ځینو مسلمانانو خپل حواس ورباندې بایللی یاپه بله وینا دمسلمانانو اکثریتافرادیې استخمارکړیدی چې اوس ورته په وچ دښت اوبیابان کې دباغ حرم ګلونه ښکاری چې په حقیقت کې همدغه دجهل مرکب ریښتیانی تعریف دی چې ځینې مسلمانان پکې اخته دي .ددنیا کافرانو دمسلمانانو څخه دخداوند متعال (ج) دنصرت دسلبولو په خاطر خپلی ټولی دسیسی پرله پسې پکار اچولی دمثال په توګه ډاکتر عطاالله ګوپانسکی څوك چې اوس دپولیند دمسلمانانو دسالیډرتی دسازمان اسلامی قاید دی نوموړی شخصیت دروسی امپریال ، فاشستو اوکمونستو واکدارانو له خوا داسلام دله منځه وړلو په

منظور تربیه کړای شوی ؤ مګر دابیله خبره ده چې په پای کې نوموړی شخص داسلام خادم او دکمونیزم هادم جوړشو .

په اوسنی وخت کې دمسلمانانو پرضد ددوی ددښمنانه دسائیسو بهیر بیخی بې مهارشوی چې په مختلفو اشکالو اودبیلابیلو وسیلوله لارې خپل تربیه شوی کسان دمسلمانانو تاټوبوته وراستوی.

همدااوس دافغانستان داسلامی انقلاب په دوران کې داټول اسلام دښمنه عناصر هڅه کوی چې خپل روزل شوی ایجنټان په بیلا بیلو بهانو دمجاهدینو صفونو ته ورداخل کړی لکه دډاکترانو ، انجنیرانو ، فلمبردارانو ، عکاسانواوپه داسې نورو لباسونو کې .

ترڅو وکولای شي چې دخپلو شومو هیلو دسرته رسولو لپاره یوڅه کاروکړي په اوسنیو شرایطو کې تقریباً ټول اسلامی هیوادونه په یوڅه پیمانه دداډول داسلام دښمنانو دتاثیر لاندې راغلی دسینماګانو ، ویډیو کسټو په واسطه سره دلوڅو فلمونو ښودل ،فحشا اودفساد نور

٦ مخ کې

له ګردیز څخه دجهاد هنداري دلیږل شووخبریالانو راپورتاژ

راپورتر: محمد یعقوب

مجاهدینو ته دګردیز فتحه کول دخوست په نسبت اسانه بریښي

عکاسي : احمد سینا «احمدي »

دخوست دفتحې وروسته اوس مجاهدین په ګردیز باندې دعمومی عملیاتو لپاره ځان چمتو کوی موږدووتنو هم دګردیز په لور حرکت وکړ ترڅو دمجاهدینو حالت په خپلوسترګو وګورو دمیرانشاه دسرحد څخه په تیریدو مودغلام خان بازار ولید دغه بازار څوکاله دمخه دملحد رژیم دبمبارد له امله وران شوی ؤ خواوس په کې ډیره ګڼه ګونه لیدل کیده اوس دغلته وګړی دنویو دکانونو اوودانیو دجوړولو په حال کې وو ددغه ځایه لږ وراندې دماخه په سیمه کې دسرك په دواړو خواوو ډیری کیږدۍ دریدلی وی اوخلکو په کې دژوند ورځی اوشپې سبا کولی دغه خلك کوچیان نه بلکې دخپلو کورونو خاوندان وو ، ولی کورونه یې ددهریانو له خوا بمبارد شوی وو اوکه دچا جوړپاتی وو نو هغوی هم ددښمن دبمبارد له امله دخپلو کورونو څخه په غرونو کې دکیږدیو ژوند ځانته غوره بللی ؤ ،

ددغه ولایت غرونه که په رنګارنګ بوټو ښایسته ښکاری نوله بلې خوایی لوی واړه اوزاړه دایمان اوننګ په وسله سنبال دي چې ددین اووطن هر دښمن اوتاړا ککو ته یې خوله ماتوونکی ګوزارونه ورکړې دي په اوسني وخت کې ددوی دمیړانی اوسرتیریدنی ډیره ښه بیلګه دخوست فتحه ګڼلی شو په هر صورت ددغې سیمې هر غراو کمر ددښمن پر ضد ډیر ښه سنګر دی . په لاره مو دمجاهدینو ډیر قوی سنګرونه ولیدل چې دولجه شوو مالونو څخه ډك وو ددغو سنګرونو دلیدلو وروسته دخوست ښار ته ورسیدلو دغه ښار چې دوه دوه نیمی میاشتی دمخه دملحد رژیم داجیرانو دناپاکو قدمونو څخه دمجاهدینو دقربانیو په نتیجه کې پاك شوی دی

اوس درژیم دپلویانو دپوځی مرکزونو اوقرارګاوو پرځای دمجاهدینو پوځی مرکزونه اوداوسیدو ځایونه دي . په دغه ښارکې دمیشتوجهادی تنظیمونو له خوا یوه شورا جوړه شوی ده چې ټولی ورځنی چارې په مخ بیایی اوټول امنیتی مسایل هم ددي شورا له خوا سرته رسیږی ، مجاهدینو دخوست

دبمباردا وسکډ توغندیو ویشتلو له امله ددې ښار اوسیدونکی نږدې ازادوشویو سیمو اومیرانشاه ته په کډه کولو مجبور شوی وو اوس جوړه جوړه خپلو کورونو ته په راستنیدو وو اوپه ښارکې هوټلونه اودکانونه خلاص شوی وو چې دلاریو او ددې ځای داوسیدونکو مشکل پرې حل ؤ ددغه ښار له یوه

دکاندارانو ډیره کمه ګټه ترلاسه کوله . مجاهدین په پام کې لری چې ددې ځای خلکو دپاره دامنیت ، روغتیا ، ښوونې اوروزنې اوداړتیا وړ موادو درسولو په برخه کې پوره اسانتیاوې رامنځ ته کړی .

دخوست ښار څخه په پاخه سرك دیوڅه واټن طی کولو وروسته دنادرشاه کوټ مربوط پیرباغ سیمې ته ورسیدو پیرباغ دنادرشاه کوټ دفتحې وروسته دمجاهدینو اودهریانو ترمنځ دلاس په لاس جګړې ډګر ؤ

دعملیاتو لپاره هم یوه شورا جوړه کړې وه چې دهغې شورا په سبب مجاهدین یو موټی اوپه نظامی ډګر کې بریالی شول . دجګړې پروخت چې درژیم

دکاندار چې محمد رحیم نومیده ورڅخه مې داجناسو دنرخونو په هکله وپوښتل ، نوراته معلومه شوه چې داجناسو په پلورلو کې

. دپیرباغ په شمول دټول نادرشاکوټ کورونه ددښمن دبمبارېو له امله په کنډوالو بدل شوی او اوسیدونکی یې هجرت کولو ته اړ شوی وو

همداراز ددومنډه تانې اودوزی ولسوالی مربوط کلی اوکورونه دملحد رژیم له خوا په دې جرم چې دوی ولی دکمونستانو سلطه نه منی او دبې دینو اطاعت نه کوی ، ځینې وګړی یې په جهاد بوخت او ځینې یې دمجاهدینو ملاتړ دي له ځمکې سره برابر شوی وو .

داخوېو منل شوی حقیقت دی کله چې کمونستانوهر چیری له مجاهدینو سره په مخامخ جګړه کې ماتی خوړلی نوبیا یې دمجاهدینو پرځای دخپلې ناکامی اوماتی انتقام دولسی خلکو څخه دبمباری په وسیله اخیستی دی . په لاره کې مودتیموربابا دکانونه چې اوس دمیراجان په دکانونو سره شهرت لری ، ولیدل دغه دکانونه اوددکانونو شاوخوا کلی چې مخکې هم ددښمن دوحشیانه بمباریو له امله وران شوی وو ، ولی بیا هم خلکو ژوند پکې کاوه ، خواوس اوس بیاچې مجاهدین غواړی دخپل پلان له مخې

٦ مخ کې

جهادي ادب

ولـويـدي كـكـري يـوپـه بـل پـسـي انـبـارشـولـي
لاره دغـورځـنـگ يـي پـه سـرو ويـنـو بـدرگـه كـړلـه
هسي سترطاغوت يي په مورچل كي رانسكوركړلو
دي مـؤمـن ولـس جـگـه دټـول امـت شـمـلـه كـړلـه

راروان اختره !

ملا اسد الله حنيفي

اي پـه غـمـونـو پـوښـل شـوى دافـغـان اخـتـره
دسره كمون په ناورين سترى اوستومان اختره
راځه راځه چي زمور خـونـو كـي ژړا وگـوري
پـه وحشـتـونـو يـرغـلـونـو سرگـردان اخـتـره
دازه مـنـم چـي سرو لـښـكـرو تـه هـم وځـپـلـي
راگرندى شه چي دي لا كړي پريشان اختره
تمام وطن مي دكمون بريځو وران ويجاړ كړ
يو ځل بوسه كړه دغه وران افغانستان اختره
دلتـه سرلوڅي پـښـي يبـلـه يـتـيـمـان اوسيري
پـه زړه ښادمن كړه دابي كسه يـتـيـمـان اخـتـره
ځان سره راوړه چي راځي دخپلواكى سندري
خاورو كي خوښ كړه زمورښكلي شهيدان اختره
دادولـس كـالـه هـم راتـلـي خـولـه ويـرونـو سـره
سركـال خـوراشـه پـه خـوښـيـو ښـادمـان اخـتـره
موږدي راتلوته په كلونو شبگيرى كړي دي
راتـه بـهـاركـړه دالـه غـمـه ډك خـزان اخـتـره
هـلـه زرراشـه دهـجـرت جـونـگـړه ولـتـهوه
دحنـيـفـى دزړه زخـمـونـه كـړه درمـان اخـتـره

لنډۍ

يو خواته ژاړي كونډې بوري
بل خوا راځي ديتيمانو فريادونه
توره دهـغـو زلـمـو كـارده
چى پلارپه وياړ اومور په پت روزلي وينه
چې څوجهان او څو افغـان وي
روسه ! تيرى به دې په كركه يادوينه
چې كوريې خپل واك يې پردى وي
داسې بې واكه غلامان دې خاورې شينه
چې مسلمان وي وطن دوست وي
دَخداى (ج) دښمن وطن په بل چاخرڅوينه
دستار په سر زما كفن دى
څكه غيرت باندې زه بيا كابل گټمه

ډيـركـسـان دي تـلـلـي پـسـې تـلـلـي
پاتـې شـوي يـې نـه نـخـښـې دي نـه كـلـي
خـوچـې لاردشـهـادت يـې ده نـيـولـې
ابـدي يـې دي پـرې ايـښـي دنـورڅـلـي

لنډه كيسه

داخترپدې ورځو کې

سيد شهريار

لمر په همدى ورځ هم نږى ته دژوند نوى الهام راوړى ؤ دراختوسره يى ځينى خلك پخپلو خوښيو اومستيو كى ډوبيده ،دده سوزونكو وړانگو دهغوى په نازكو بدنوهيڅ تاثير نشو كولاى ځكه چى هرڅه اركنډيشن ،اركنډيشن ؤ .

اوڅوك هم دده په راختو سره دهمده دسوزونكو وړانگو دتپ څخه په راغليو تروږخولو كى له ډيرى بدى ورځى سره مخامخ ؤ نن دده تاودنورو ورځو په پرتله دومره زيات ؤ چى دسرك څخه راپورته كيدونكى تپ خلكو ته داخرت دورځى سختى وريه يادولى .

داشنغرى دلوى سرك په دواړو خواوو دغوايو، پسونو ، ميږواو بزو لوى لوى كتارونو ولاړ ؤ هرڅوك دلوى اختر دقربانى لپاره دخرڅلاو بازار ته دخرڅ اواخستنى په نيت راوتلى ؤ په دواړو خواوو دقدم ايښودو ځاى نه ؤ هر پرقيدلى موټر چى به دمال داخيستنى لپاره ودريد نواول خوپه دموټر څلا اوبرقادلمر دزرينو وړانگو سره سترگى وجنگولى اوپه يوه اوبل باندى به يى دبرترۍ دعوى كولى په لږه شيبه كى به څاروى دموټر دروستنى برخى ته ورگذار شو اوموټر به په يو شنگ سره دخلكو له منځه ووت :

شهباز چى پخپلو چورتونو كى لاهودبس په يوه پسته چوكۍ كى ډوب ناست ؤ خپل ټول غمونه يى ترشاكړى ؤ اودهوايى برجونو په جوړولو يى گوتى پورى كړى وى دكلينر پدى غږسره يى دخيالى او تصوراتى دنيا برجونه ناڅاپه راونړيدل چى (كوزيږى اخرى ستاپ دى) له غږسره سم شهباز هم دچوكى څخه راپاڅيد، پښه چى يى دموټر له دوب څخه گرم شوى سرك ته راكوزه كړه نوپه سينه كى يى زړه يوواري بيا ددووكسانو لپاره ددوعا و په غوښتنو شو ،لومړى خو يى هغه چاته ډيرى دوعاوى وكړى دچاپه ډيره سپارښتنه چى دى دنمايندگۍ په يوه دفتر كى دانضباط په توگه مقرر شوى ؤ .

خداى پاك (ج) دى كور ودان لره څومره نيكى دى راسره وكړه پدى گرمۍ كى مى كه دكور برق هم نه درلوداى نوڅه به مى كول ماسره خو ديخ داخستو لپاره يوه روپۍ هم نه پيداكيده بيامى هم پكارشوى كه تاراسره منډى تړرى نه وى وهلى نو چيرته زه اوچيرته دادفترونه ! ما خو داڅلور پنځه كاله ددى بازار دختهواوگتهو په لالهانده مزدورۍ كى تيركړل بى وسه يم ، مجبوريم په پردى وطن كى درى كوچنيان اوتور سرى ميرمن راترغاړى ده .

خدايه پاكه كه وس مى واى نومابه هم دقربانى لپاره يو ورى اخستى ؤ،لكه چى لوى اختر رانږدى شوى دلوى اختر دنوم سره يى زړه يو راپاريدونكى درد احساس كړبيا اختر راغى ؟ دى اختر خوماته دهغه بل تيرشوى لوى اختر دحادثو اوحماسو ډكه ورځ راپه ياد كړه په سترگو كى يى تكى سپينى اوښكى ډنډ شوى دښى لاس په دووگوتو يى خپلى دواړه سترگى زور كړى اواوښكى يى ترى وڅڅولى، دى دپسونو په بى حسابه رمواو داشنغرى دپرنفوسه اوگڼ بازار دبى شميره موټرو په كتارونو كى له خانه ورك په بله دنيا كى روان ؤ، دى داهيڅ نه وينى دده دذهن په پرده دفلم دپردى په څير يو وارى بيا هغه صحنه تكراريږى كومه چى پرده باندى پنځه كاله مخكى تيره شوى وه .

دلوى اختر ورځ ده دكلى په جومات كى ملاصاحب دخطبى په لوستلو پيل كړى دى خودى دوخت ناكردو دومره وارخطا كړيدى چى هيڅ هم نه اورى ،دى په همدى تكل كى دى چى په كومه لاره اوپه كوم پلان دخپلو بچيو سرونه په سيورى كړى ځاى پرځاى پوستى جوړى شويدى كوم خطر راپيښ نشى دده دپلان هريو بند به دوحشت اوبربريت دخونړى سيلاب څپو تهينگيدو ته نه پريښودو كه له يوى خوادى يووزړى ؤ نوله بلى خوايى زامن هم يوه يوه قطره ؤ دده عزم او اراده په همدى خبره تهينگه شوه چى مرگ اوژوند دخداى پاك (ج) په لاس كى دى داختر په دريمه ورځ به كه خيروى حركت كوم :

خطبه ولوستل شوه دوعا وشوه داختر مباركى په ماتو گوډو زړونو وچو شونډو او سپيرو مخونو سره وشوى سكون اوارام په سترگو نه ښكاره كيده هرى خواته دوحشت ،بربريت ،ظلم اوستم ښكاره نښى نښانى ليدل كيدى خلك لادجماعت لخوانڅخه په پوره ډول نه وُخواره شوى چى شپږ جټ الوتكى په ډيره قهرجنه او تاوجنه بڼه كى دكلى پلوپه

په ٥ مخ كي

دوطن خاطره

علاقه دار «حيدرى »

اى دعظمتوځمكى اواى دپاك اسلام زانگو — اى دلوى افـغـان خاورى موردميړنو بچو
ستاپه لويو غروكى باتوران اوسربازان اوسى — تاكى زمريان اوغيرتى نسل ځلميان اوسى
ستاپه غيركى لوى شومه ستاپه مينه پايمه — ستاپه حفاظـت كـى به دحق درسونه وايمه
پتى خـزانى دى په سينه اوهره تره كى — ستاپه مينه اوسى شاه ځلميان هره جونگړه كى
تاگټلى نوم دى دجهان په شاهكاريو كى — لمرغوندى ځليږى تـول جـهان ته په بريوكى
ستاله هندوكش اوله بابا اوله پاميرنه ځار — ستاله سفيدكوه او سلـيـمان اوترجميرنه ځار
ستاله غرودرونه راوتلى مست سيندونه دي — هرلښتى اوبه دي زمونږ ژوند وينه رگونه دي
ستا داباسين امو هلمند دغورځنگونه ځار — ستادننگـرهار او پكتيا ښكلو ځنگلونه ځار
ځاردې له درواوهسكو غرونو له كوهساره شم — ځـار دي له سيندونو دمستيو دابشاره شم
سـتادبدخشان قيمتى لعل نه قرباني شمه — ځاردې له باميانه ،قندهار اوله غزنى شمه
اى گــرانه وطنه دغيرت اوننگيالو ځمكى — اى پـښتنى خـاورى ډك دوياړاوكارنامو ځمكى
ستا په پاكه خاوره كى اصيل بچيان اوسيږى تول — ستاغيـرتى نسـل دارين نژاد يادېږى تول
تاپه لوى اسيا كى تاريـخى نقش لوبولى دى — تاله خپـله كـوره انگريزى قدرت شړلى دى
سـتـاپه وچودښتو باندى وياړمه نازيږمه — سـتاله هـري كانى بوټى سل ځله جاريږمه
ته ماته جنت نشان يى ستاله نعمتونه ځار — ته زما هسـتى اوژوند يى ستاخوږو اوبونه ځار
سترگى دې ړاندى شى هغه څوك چى درته بـدگورى — پښى به يى شى لنډى چى بدى كوى نږدى ښورى
هرڅوكه دى ستايم په غزل اوترانوكى زه — خـوند دمينى اخـلم په نغمو اوزمزموكى زه
زه دى يم ليوال وطنه ستا مينى مجنون كرمه — غرونوگرنـگـونو كى زه ستامينى لټون كړمه
ماپه قلم وليكه سوگند خلكـه قسـم كوم — تل دخـپل وطن په سپيرو دښتو ويرماتم كوم
ماته رانږدى له پلار نيكه اوله هـرچانه يى — پوه شـه پاكى خاورى له هرچانه ماته گرانه يى
ستا زيب اوزينت مى دكالو عمر ارمان دى — دازما وعــده دغـه اقرار مى هر زمان دى
دزيار په نتيجه كى به لا ښكلى غره راغونه شى — تـابه كړم سمسوره سپيرى دښتى به گلونه شى
سوى لوغړن دى «حيدرى »كړپه كتـوكتو — هـرڅه دى ډير گران دې «حيدرى»ته ترليموليمو

کې څه دې په دې خاطر سړی دی ته اړکیده چې پرله پسې ډزې وکړې اوکه بیا دکورڅخه کوځې ته هم راوتې باید ډزې دځاری ساتلی وی زه ونپوهیدم چې ایا کوم کلی کې امنیت هم شته .

دهغو کلیو پرته چې هلته دمجاهدینو پاخه مرکزونه ؤ اوهلته به چې لاړو هغوی به سخت جنگ کاوه اوموږبه یې په شاکولو دداسې عملیاتو وروسته به موږ بیخې وحشیان وگرځیدو اودخلکو په شکولو اوغلابه موپیل وکړ او زموږ څخه به ځنې ډیر ظالمان وگرځیدل زموږبه ماغزه خراب شول اودی وحشیانه کارونو ته دجواز پیداکولو په خاطر به موږبه زوره چغې وهلې دایو ډول دوحشیانه احساساتو جذبه ده چې موږبه فکرهم نشو پکی کولی اویواځې ډزې به موکولی .

پوښتنه : ایا تاسو ویلی شی چې مجاهدین به بریالی شی که نه ؟

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

په افغانستان کې دنیول شوروسي عسکرو خاطرې په تیرپسې :

دعوض الدین «صدیقي» ژباړه

ځواب : هغوی دوسپنیز هوډ خاوندان دی دهغوی ددی هوډ اوارادی ماتولو گران کاردی ، زما په فکر ترڅو چې ټول له منځه یونوړل شی دهغوی مقاومت ختمول گران کاردی په همدی خاطر دی چې دافغانستان جنگ ډیر خطرناك دی .

پوښتنه : ته څه فکر کوی په افغانستان کی به دروسانو شمیر څومره وی ؟

ځواب : مادروسی صاحب منصبانو څخه اوریدلی چې دروسی پوځیانو شمیر یو لك اوپنځوس زره دی ، خودپوځ یوه برخه روسان نه دی په کومو ورځو کی چې زه دجلال اباد ، کابل لاری دامنیت لپاره گومارل شوی وم هلته زموږ دموټرو ساتونکی بلغار یان ؤ .

دبغلان په ولایت کی دمجاهدینو یوی ډلی یو ۱۹ کلن روسی پوځی چې نظامی متخصص ؤ ونیوه هغه دوه کاله په افغانستان کی دروسی قواؤ ترڅنگ پر افغانانو دظلمونو او وحشیانه عملونو کی تیرکړی ؤ اواوس دخپل قوم پر ظالمانه کارونو سخت پښیمانه دی ، هغه دخپلو سترگو لیدلی حال یوه لیك کی لیکلی او مصلحتا یی خپل نوم نه دی پکی ښودلی: «هغه څه چې ماپه افغانستان کی ولیدل هغه زه دکوم دوزخ سره هم نشم مقایسه کولی.چیرته چې ښارونه ؤ ، کورونه ؤ اوجگی جگی بنگلی وی هلته اوس دخاورو دټوپیو پرته څه نشته ، چیرته چې خلك اوسید ل اوس هلته یو ژوندی هم نه لیدل کیږی ، هلته به اوس یا دمرغیو اه او ویرونه واوری یادروسی هلیکوپترو شورماشور .

داټول دروسانو د« انترناسیونالیستی » مرستو دپالیسی نتیجه ده روسی مرستی دزرگونو انسانانو دوژلو سبب شوی ، ددی مرستو له وجی هغوی دخپلو شتمنیو ، دخپل هیواد اوخپلی ازادی څخه بی برخی شول دهغوی اوسیدونکی نورو هیوادونوته په هجرت کولو باندی مجبورکړای شول اواوس روسان پردی هیوادونو دافشار هم اچوی چې دی خلکو ته پناه مه ورکوی. دوی دبربریت اووحشت دور ټول حدود مات کړل دظلم ټول ریکارډونه یی مات کړل روسی پوځیان پروحشیانه بمباریو بوخت دی په ډیر وحشیانه ډول افغانان له منځه وړی ، روسی پوځیان چې دوحشی حیواناتو لقب ورته موزون او مناسب دی دبی وزلو خلکو کورونه له منځه وړی ، پردی یی زړه نه تش کیږی چې یواځې دځوانانو وینی تویی کړی هغوی دماشومانو ، ښځو او سپین ږیرو وینی هم په ډیری بی رحمی تویوی ، که څه هم چې هرپوځ دداسی ظلمونو څخه کرکه کوی خو روسی پوځ دخپلو صاحب منصبانو اومشرانو په امر دی جرمونو کی ډیر زیات دخیل دی ، هغوی ته پردی ناوړه کارونو انعامونه ورکوی ، دروسی مشرانو ددی پالیسی له امله روسی پوځ دظلم او وحشت له پولو پښی اړولی اودبی وزلو خلکو ددفاعی عملونو په نتیجه کی پخپله هم وژلی کیږی .

هغو کلیو کی چې لږ.هم دروسانو سره مقاومت وکړی بیا دوحشت یو بی مثاله تاریخ پریږدی بی رحمانه بمباریو له لاری دخلکو کورونه له منځه وړی ، فصلونو ته اور ورته کوی اوحیوانات وژنی چې یا خلك دلوږی مړه شی اویا بل هیوادته هجرت وکړی .

دافغانستان خلك مجاهدینو سره ډیره مینه لری یواځې مینه نه ده بلکی هغوی په ټول توان دروس پرخلاف جنگیدل غواړی دادهغوی دعظمت او زړورتیا ثبوت دی ، دوی دوینی تږی دی ، دروسانو پرخلاف دخپلو سرونواومالونو څخه تیردی دایواځی دځوانانو اوقومی خلکو خبره نه ده ښځواوماشومانو هم ددښمن پرخلاف وسله راپورته کړی .

نوربیا



داختړپدې ورځو کې . . .

ډیره تندی سره راروانی وی چالاددوی په باب پخپلو کی سره خولی سپړلی نه وی اونه یی له ستونو څخه کوم غږ راویستی ؤ فقط سترگی یی داسمان په لور کږی وی :

داختر په ورځ په ټول کلی کی دچوپتیا اوسکوت فضا خپره شوه دغه دسکوت فضا په لړه شیبه کی دناپالم دبمونو په راغورځیدو ماته کړای شوځلك سره تیت او پرك شول هری خواته دبمونو په غرزا کی دکړیکو اوازونه پورته کیدل په لږه شیبه کی طیاری بیرته دخپل منزل په لورستنی شوی مجاهدینو پری له یوی خواهم تعرض ونکړځکه هغوی دبی گناه اوتش لاسو کلیوالو په مرگ روادارنه ؤ دډیرو لوگیو اودوړو له لاسه سترگو کار پرینښود هری خواته تورغومبرؤ یو دوه ساعته پس دوړی اولوگی داسمان په لور وخوځیدل دکلی هره ډېره په سرو وینو لمبیدلی وه دهری ډیری له تل څخه دویرونو او فریادونو انگازی راپورته کیدی روغ کسان دټپیانو اومړیو په راټولولو بوخت شول روسانو اودهغوی مزدورانو نن افغان ولس ته داختر په مبارکی کی دناپالم بمونه ورکړی ؤ هغوی پخپل هوډ بریالی ؤ!!! ځکه چې هغوی انقلاب راوستی ؤ !!.

. .

شهباز چې دخپل کور پلو ورمنډه کړه ټولومړی یی خپل بوتکی زوی گلباز په سرووینو کی لت پت ولید دی یی لاتر کټه رسولی نه ؤ چې دمیرمنی لاس اوپښی غورځول یی ترسترگو شول زوی یی ترکټه ورساوه اودمیرمنی پلویی رامنډه کړه : داختر پدی ورځو کی یی په سترگو کی دوینو ډندونه ولاړ دبمونو په پرچو پرهار پرهار شویده خودزگیرومځه یی دوخت ناکردی نه شی نیولای دهغی له خولی څخه یوه تویه اودری څلور زگیروی راوځی کورپه کنډوالو بدل شوی دی دری نور بچی یی الله روغ جوړ ساتلی هغوی کله پخپله موږ اوکله پخپل وروړ راغوړیږی اودهرچا سترگوته په همدی نیت گوری چې شاید له موږ . . .

دکلی خلکو شهباز ته مشوره ورکړه ته دی میرمن اوزامن دمجاهدینو دغونډپلو رسوه ځورکه لاژوندی ده که نوره وینه تری لاړه نوشاید چې بده به شی شهباز خپله میرمن په شا اودری کوچنیان یی ترمخی کړل په تلو ، تلو کی یی داخبره ځوکرته له خولی وختله ، وروونو څه وکړم یواځی په تاسی می دا بد حالت نه پیرزو کیږی هلته می بچی په کورکی پروت دی اودلته می میرمن :

څه وکړم زما خوله څیکره وینی ځانځی خلکو ورچغی کړی څه ځان رسوه دهغه لپاره اوس داهم وژنی غونډ ته ځان رسوه هلته به شاید کوم ډاکتر موجود وی ته څه موږ نورټپیان دررسوو څه کسان به دمړیو غم وکړی همغسی وشوه له یو ځوورځو تداوی نه پس شهباز پاکستان ته پداسی حال کی هجرت وکړ چې نه یی دټوټه ټوټه شوی زوی څیره اوقبر ولید ، اونه یی دخپلی میرمنی غبرگی سترگی :

هغه ړنده شوی وه او دهغی سترگی له منځه تللی وی .

تیره شوی کیسه یی دذهن په پرده په ډیره تندی سره روانه وه اوتور به لاپکی کومی خواته ووت چې دیوه سړی سره دولی په جنگیدو یی دذهن په پرده چلیدونکی کیسه دړی وړی شوه ، ده چې دسړی پلووروکتل نود سړی له سترگو څخه دخوښۍ او خوشحالی ځرکی الوتل په ډیره چالاکی سره یی په خلکو کی ځان تیراوبیر کړ ده یی هم نور غمونه ځوړ اوپخپله مخه تری روان شو له سوچونو اوفکرونو څخه یی ځان راویوست تویه یی وښکله : خدای پاك دی زما داقربانی پخپل دربارکی قبولی کړی ،

خلکو څومره قربانی ورکړی دازماخولا . . .

ورپسی یی دخپل امر صاحب لپاره دخپله خدایه دکامیابی اوبریالیتوب دوعاوی وغوښتی ځکه چې دامرصاحب په امر معاش داختر څخه اوه ورځی مخکی حواله کړای شوی ؤ دی خپل لومړی معاش ته ډیر زیات خوشحاله ؤ ده سره دکور دټکی پکی دبرابرولو فکر ؤ دده هم میرمن وه هغه خیرکه په غبرگو سترگو ړنده شوی وه هغه خودظالمانو دظلم ښکار شوی وه اودده هم بچی ؤ . . .

دهغوی زړونه هم دغوښی ؤ هغوی هم څه خوړل اواغوستل ، دی په همدی سخته گرمی کی دکور پلو په گړندی گړندی قدمونو رهی ؤ خدایه پاکه که گلباز ژوندی وای اوس به می لږی لاړی تیری وای څه به هغه کول اوڅه مانو ددی نورو بچو سبق به راڅخه نه ؤ پاتی شوی .

همدغه دردونکی سوچونه ؤ چې دکور په دروازه یی ودراوه میرمن یی دخپلو بچو سره یوځای په دوپجنه کوټه کی دده په انتظار ناسته وه هغه هم په همدی امید چې کاشکی نن یی معاش اخیستی وی

دده د ورننوتو سره هغه دخپله ځایه راپاڅیده ده خپلی سترگی دخپلو بچو پلو کړی په سرونویی لاس ورتیر کړ ! بچو معاش می واخیست خدای پاك دی دامرصاحب سره ښه وکړی دمیاشتی نه مخکی یی معاشونه حواله کړل اختر ته لاڅو ورځی شته سبا هسی هم جمعه ده رخصت می دی لاړبه شم اوښی دطبعی جامی به درته راوړم .دکوچنیانو مور هم شکر ویوست شکر دی خدایه چې موږ دی هم ددی ورځی لایق کړو :

هن دگلباز موری واخله داپیسی چې راڅخه گلی ودی نشی ډیر زیات سترړی یم خوندی یی کړه ده چې بغل جیب پلو لاس کړ نو لاس یی بوټه دجیب څخه ووت : یاخدایه پاکه خیر راپیښ کړی پیسی می څه کړی دازماجیب څنگه داخوروغ جوړؤ .

میرمن یی هم وارخطا شوه له خپله ځایه دده په وارخطایی راپاڅیده .

ولی خیر خودی څنگه وارخطا غوندی شوی ؟ اوف خدایه پاکه دالکه چې همغه بی انصافه راڅخه جیب پری کړیدی بل ځوك له ماسره ندی جنگیدلی کاشکی چې بیا په کور کی خومی حال نه وی ویلی دوړو زړونه می راوپارول اوڅه خوښی اوخوشحالی می ورنکړای شوه دخدای پاك بی انصافه له مانه دی څه غوښتل زما غریب خودی گرد ارمانونه په سیند کی لاهو کړل ،

اخر زما څیری ته دی هم نه کتل ستاپه زړه کی دومره رحم نه ؤ ... چې داختر پدی ورځو کی اودومره ظلم.

طاغوتي ځواکونه دمسلمانانودبې لارې کولو لپاره...

وسایل بې حده زیات شوی دي په دی ډول سره مسلمانان خصوصاځوان نسل وربانډی ښکارکوی .

په دی سربیره دداسی مضرو اوبی ځایه مصروفیتونو له امله ځوانان ددرس، تعلیم اوکارڅخه وروسته پاتی کیږی چی بالاخره بی لاری کیږی او مستقبل یی دډیرو دریدریو اوافتونو میدان جوړیږی چی په نتیجه کی دنیا او اخرت یی دواړه بربادیږی .

مسلمانان باید وپوهیږی چی ددوی عقیدوی دښمنان دمسلمانانو لپاره ټول هغه وسایل اولاری چاری لټوی اورامنځ ته کوی یی چی دمسلمانانو دگمراهی ، لټی او انحراف باعث شی په داسی حال کی چی دخپلو دولتونو اوحکومتونو ترتسلط اوارادی لاندی ولسونه یوه شیبه هم بی کاره او بی هدفه نه پریږدی ، دروس جابرو ظالمو واکدارانو دعقیدی اوقانون په اساس ښنگرانۍ کارگران اونورکارکوو

دکارپه وخت کی دډوډی خوړلو او اوبو څښلو لپاره دکښیناستو اجازه هم نلری اوکه څوك کښیناست نوبیا دسایبریا واورینو اوجبه زارو ځمکو ته تبعید کیږی .

پورتنی ذکرشوی مطلب دداکتر عطااللله گوپانسکی دخولی خبره ده چی په یوه مصاحبه کی یی ذکرکړیده .ده په مصاحبه کی زیاته کړه چی زه په ناسته دخبروکولو عادت نلرم ځکه چی په روسی او روسی سیستم ته ورته کمونستی نظامونو کی کښیناستل گناه ده .

په کمونستی هیوادونو او نوره کفری نړی کې دفحشا اودحیوانیت جنسی ناوړه اړیکو په قایمولو سره دمختلفو نه علاج کیدونکو او وژونکو ساری ناروغیو لکه ایدس ، سفلیس اوداسی نورو دمنځ ته راوړلو سبب شویدی خوددی لپاره چی خپل اصلی دښمنان یعنی مسلمانان یی درنځونو ، مشکلاتو اوپرابلمونو سره

لاس په گریوان کړی وی نو دفحشا درواجولو اودځوانانو دگمراه کولو ډول ډول طریقی اولاری چاری په کار اچوی .

دکریملین استعماری توسعه طلبو واکدارانو دخپلی کرغیړنی بی اساسه مادی عقیدی دتحقق په لار کی په واقعیت کی دبلعم باعو دنقشی څخه کار اخلی هغوی دازادی اودیموکراسی ترپردی لاندی په نړی خصوصا وروسته پاتی اومسلمانو هیوادونو کی دځوانانو دجلب اوجذب په خاطردښځو او پیغلو څخه کار اخلی په روس کی دباندنیو او اسلامی هیوادونو اوسیدونکی اوهم په باندنیو هیوادونو کی دروسی سیاسی نمایندگیو ، اقتصادی اوفرهنگی موسسو دایجادولو په پلمه په مختلفو هیوادونو خصوصا

وروسته پاتی اواسلامی هیوادونو کی روسی ښځی او پیغلی دځوانانو سره دحیوانیت جنسی اړیکو په برقرارولو سره هغوی دخپلو استعماری هدفونو دپیاده کولو لارکی دالی اووسیلی په توگه استعمالوی کله چی په افغانستان کی دروسانو ټولی غیر مستقیمی استعماری لاس وهنی افشا او خنثی شوی اونورنو روسی نمایندگان (خلقیان اوپرچمیان) له یوه سره دنابودی کندی ته ورغورځیدل روسی کمونستانو مستقیمه نظامی مداخله وکړه اوزموږ ښکلی هیواد یی چی څیری کوونکو اغزیو اوکنډولو بدل کړڅه دپاسه یونیم ملیون مجاهدین اومسلمانان یی شهیدان کړل .دطبیعی گاز، دلوگر په عینکو کی مس ، دبدخشان اوپنجشیر لعل اوجواهر، غوری اوجبل السراج سمنت ،دمزار شریف کیمیاوی سری تولیدات ،ډول ډول میوی ،دملیاردونو ډالرو قیمت لرونکی یورانیوم اوبالاخره انسانان اوښکلی دتنکو گل بوټو په شان کوچنیان یی خپلی کمونستی امپراتوری ته نقل کړل اوپه مقابل کی یی خپل مزدور رژیم ته دگران افغانستان دورانولو اودافغانی مسلمانانو ښځو کوچنیانو او زړو دشهیدولو په خاطر تباه کوونکی وسلی ورکړی اودغو دشلم قرن وحشیانو دوحشت اوبربریت ترټولو لوړی بنگلی جوړی کړی، خوکله چی روسی کمونستی استعمار دافغانی مجاهدینو دایمان اوعقیدی په زور دشرمیدلی ماتی وروسته تیښتی ته مجبور شو نوپه نړیواله سطحه یی په نویو دسیسو اواستعماری هلو ځلو پیل وکړ ترڅو په اصطلاح داشتی ملی اوائتلافی یاگډ حکومت په وړاندیز سره خپله ماتی اورسوایی تلافی کړی اما ترڅو پوری چی دافغانستان مسلمان ولس دافغانستا ن په اسلامی خاوره کی دروسی کمونستی امپراتوری جوړی له یوه سره له منځه یو نه سی ،خپل پیل شوی جهاد ته به ادامه ورکړی اودگردو داسلام ددښمنانو دسیسی اوفریبونه به په دقت اوزیر کتیا دپاملرنی لاندی وساتی چی دددښمنانود دوکو جال لاندی رانشی اوداساسی بری لار اوږده اوپیچلی نشی .

> **مسلمانان باید وپوهیږي چي ددوي عقیدوی دښمنان دمسلمانانو لپاره ټول هغه وسایل اولاري چاري لټوي چي دمسلمانانو دگمراهي لټي اوانحراف باعث شي**

دبنگله دیش پخوانی مشر جنرال ارشاد په لس کاله بند محکوم شو

ډاکه ، دامریکا غږ راډیو :

دبنگله دیش یوی خصوصی محکمی ددی هیواد پخوانی جمهور رئیس جنرال حسین محمد ارشاد دغیر قانونی وسلی دساتلو په جرم په لس کاله بند محکوم کړی دی .

نړیوالو خبرځایونو ددی رپوټ په ورکولو سره زیاته کړی ده چی حسین محمد ارشاد غواړی دخصوصی محکمی ددغه حکم پرضد به ددی هیواد په ستره محکمه کی دعوه دایره کړی دمحکمی ددغه حکم داوریدل کیدو په وخت کی دجنرال ارشاد په زرگونو پلویانو ددی حکم پرضد په مظاهرولاس پوری کړ.

مجاهدینو ته دگردیز فتحه کول دخوست په نسبت اسانه بریښي

پرگردیز حمله وکړی نودکابل رژیم دخپلی وارخطایی له امله دمیراجان دوکانونو اوسټو کنټو شااوخوا کلی دبمبارۍ اوتوپونو دډزو دبرید لاندی نیولی ، نوپه دغه اساس ولسی خلك دخپلو کورونو څخه غرونو ته ختلی وو او مجاهدین دسټوکنټو څخه ورتیر دگردیز دغلگی اودره په سیمو کی یې خپلی مورچی جوړی کړی وی اوپر گردیز باندی یی دیوی عمومی حملی پلان جوړاوه ، دگردیز څخه ډیر کډوال نږدی ازادو شوو سیمو ته راروان وو ترڅو دجنگ په جریان کې ددهری حکومت دبمبارد اودتوپونو دډزو څخه په امن پاتی شی مجاهدین چی دخوست دفتحی په جگړه کې بریالی شوی اوډیری سپکی او درنی وسلی یې په غنیمت نیولی داډه اومطمئن ښکاریدل اوویل به یې چی دالله (ج) په مرسته دخوست په نسبت دگردیز نیول ډیر اسان دي اوس مجاهدین دخپلو درنو وسلو په ډزو سره دگردیز

مرکز اوشاوخوا سیمو کې ددښمن پوځی مرکزونه اونظامی تاسیسات تراورلاندی نیولی اوهم ددښمن دبمبارد څخه دځانونو دساتلو په خاطر څاری اوگاری جوړوی ددې ترڅنگ دگردیز دمرکز څخه دغیر نظامی افرادو اوکورونو اوافراد دموقع په پیداکولو دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیمیږی ددښمن څخه دراگوښه شوو افرادو له خرگندونو څخه بریښی چې دښمن ډیر وارخطا دی مورال یې ټیټ اواکثره دتیښتی دلاری په لټه کې دي .

دگردیز شاوخوا جهادی قوماندانانو دخبرواترو اودهغوی له خوا دوسلو

دگردیزښارشاوخواته اتل مجاهدین دمورچو په جوړولو بوخت دي

دبهرکیدو لپاره اعلامیې خپروی په دې اعلامیو کې عامو خلکو ملیشه وو ، عسکرواو صاحب منصبانو ته بلنه ورکوی چې ددښمن دصف څخه ځانونه گوښه کړی اوازادو سیمو ته راشی نوپدې لړکې درژیم قواوی دځای په ځای کیدو څخه داسی معلومیده چی مجاهدین پر گردیز دیوی عمومی حملی دپاره چمتو دي اوپه همدی نږدی وختو کې دلویی حملی دپیل کیدو دپاره سترگی په لار دي الله (ج) دې دمجاهدینو مرستندوی شی .

دزاخیلو کمپ کې ۸۰۰ جونگړې تباه شوي

پیښور ، میډیا :

دکابل سیند کې داوبو دسطحی دلوړیدو په اثر دپیښور دزاخیلو افغان مهاجرینو دیو کمپ ۸۰۰ جونگړی تباه او دری زره جونگړی یې اوبو لاندی کړی اوپه سل گونو کورنی نورو کمپونو ته انتقال شویدي

دمیډیا خبریال درپوټ مطابق دپیښور په لر ختیزه دکابل سیند په غاړه نوښارسره نږدی دافغان مهاجرینو دزاخیلو په کمپ کې دجوزا په ۱۸ مه دگرمی دشدت اودواوروداوبه کیدلو له امله دکابل سیند داوبو سطحه لوړه شوی اودزاخیلو دنواباد کمپ تقریباً ۸۰۰ کورونه یې تباه کړی اوپه سل گونو کورنی په تنظیمی اوشخصی موټرو کې دجلوزو چرات ، ډاگ بهسود کمپونو اونورو شاوخوا سیمو ته دخپل مالونو اودکورنیو دغروسره پناه وړی ده .

رپوټ زیاتوی دکابل سیند اوبه تقریباً د ۵۰۰ مترو په فاصلی سره په کمپ راننوتی چې تراوسه پوری هیڅ یو تن ندی وژل شوی خو دجوزا ترشلمی نیټی پوری تقریباً دذکرشوی زیان علاوه تقریباً ۳۰۰۰ نوری جونگړی یې اوبو لاندی کړی اودغرق کیدلو په حالت کې اوبه ولاړې دي .

درپوټ مطابق دنوموړی ځپل شوی کمپ جوماتونه ، مدرسی ، کلینك داوبو څاه گانی اوپه لارو کوڅو کی اوبه ډنډولاړې دي اوپه سل گونو کډې دپناه اخیستلو لپاره عمومی سرك باندی شخصی اوامدادی موټروته په انتظار کې دي .

دعینی شاهدانو په حواله دزاخیلو کمپ دسیند څخه دبچ کولو لپاره دکمپ وگړو دشگو ابتدایی بندونه جوړکړی وو خو په اساسی ډول داوبو دمخ نیوی لپاره لازم تدبیرونه نه ؤ نیول شوی

خبریال لیکی چی دغه راز دزاخیلو نږدی دخوشکو،ناگمان ، میچنی اوخزانی په کمپونو اودکابل سیند په شاوخواسیمو باندی اوبه ورختلی چی زیاتی ودانی رنگی اویا زیانمنی کړی اما دپوره تلفاتواوزیان په هکله یې مکمل رپوټ لاندی رارسیدلی .

درپوټ مطابق دسیمو وگرو دافغان کمشنری ، خیریه موسسو اووگرو څخه دحپلی شوو کورنیو سره داسلامی اوانسانی همدردی پخاطر دهرراز مرستی غوښتنه کړی ده .

دملگرو ملتونو وړانديز ...

ورسوی نو خپلی هڅی باید پداسی محورکی راغونډی کړی چی هغه دافغان ولس دهیلواو غوښتنوسره اړخ ولگوی او دیوه اسلامی اوخپلواك حکومت دجوړیدو له مخی دملت هیلی اواهداف دتحقق سرمنزل ته ورسول شی .

لدی پرته هیڅ یوه طرحه ، طرف او وړاندیزنشی کولی دافغانانو ددین ، وطن ، اوملی نوامیسو لړکی اودښمنی ولی ته دافغانانو دسرنوشت دراتلونکی په رابطه سنداو تضمین ورکړی .

په خوست کې درژیم له ورکو جنرالانوڅخه یو بل جنرال هم دمجاهدینوپه لاس ورغی

خوست ، دجهاد هنداره خبریال :

برید جنرال عبدالحبیب د«رشید دوستم» ملیشی مربوط د(۵۲می) فرقی د(۵۷۰ -ام) غونډ مرستیال ، دهغه جنرالانو له ډلی څخه دی چی دخوست ترفتحی وروسته یی ځانونه دعسکروپه ډله کی پټ کړی وو.

برید جنرال عبدالحبیب وایی دی دحاجی عبدالله جان زوی دی اودجوزجان ولایت دسرپل ولسوالۍ (چی اوس دمزدور رژیم له خوا دولایت درجه ورکړل شوی) داژده نار دسنګ چارك دسیمی اوسیدونکی دی.

دی وایی : خلور کاله کیږی چی ددولت په قواوو کی یی دنده اخستی ، اوپدی موده کی یی دسرپل اوفاریاب په ولایتونوکی په عملیاتواوهمدارنګه دمزار شریف اوشبرغان ترمنځ دمزدور رژیم دکتارونو لپاره دلویی لاری دامنیت په تامین کی وظیفه اجراکړی .

برید جنرال عبدالحبیب وایی چی دی بی سواده دی اوهیڅ زده کړه یی نده کړی

ددی پوښتنی په ځواب کی چی دبی سوادی سره سره ده ته څنګه دجنرالۍ درجه ورکړل شوی وایی چی ده په ډیرو عملیاتو کی برخه اخستی اورژیم ته یی ډیر فعالیت کړی نوځکه دبرید جنرالۍ رتبه ورکړل شوی ده.

نوموړی دکابل رژیم دوسله والو قواو په لیکو کی موجودو ټولو عسکرواو افسرانو ته په خپل پیغام کی وویل : زه ټولو عسکرو اوافسرانو ته چی تراوسه دکابل دولت تر څنګ ولاړدی وایم چی ژر ترژره ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړی که په ولسوالیو کی دی که په ولایاتو کی خپل مراکز باید مجاهدینو ته تسلیم کړی ترڅو په افغانستان کی جنګ اووینی تویونه پای ته ورسیږی.

برید جنرال عبدالحبیب دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی وویل چی دی نه دخلق ګوند سره اړیکی لری اونه هم له پرچم سره اوهری ډلی دخپلو مقاصدو لپاره دده څخه استفاده کړی .

دیادونی وړده چی برید جنرال عبدالحبیب دخوست دفتحی په جریان کی دمجاهدینو له سترګو څخه ځان پټ کړی ؤ ، چی څو ورځی دمخه دالحاج مولاناجلال الدین حقانی دجبهاتو مربوط دشهید سلیمان شاه دزرهدارو غونډ

دمجاهدینو له خوا دنورو اسیرو عسکرو په ډله کی کشف اووپیژندل شو .

کابل رژیم ګردیز ته دنوو وسلو اوعسکرو لیږل پیل کړیدي

دکابل مجاهدینو خبری خپرونی لیکلی دی چی دخوست له فتحی وروسته دمزدور رژیم پوځی روحیه بیخی په ځمکه لویدلی اودعسکرو دروحیی دلوړوالی لپاره هڅه کوی چی په نوو اقداماتو لاس پوری کړی . دوی غواړی چی ګردیزته دنوووسلو اوعسکرو په لیږلو سره خپل دماتی مخنیوی وکړی

لکه څنګه چی په دی نږدی وختوکی له روسیی څخه یو څلور کسیز هیئت کابل ته راغلی څو دافغانستان اوسنی پوځی حالت وڅیړی اوپه څنګ کی یی دخوست دسقوط عوامل مطالعه کړی.

نوموړی هیئت تراوسه پوری په هغو غونډوکی برخه اخیستی چی درژیم مشر نجیب ، ددفاع وزیر، داخلی وزیر ، ددولتی امنیت وزیر اودرژیم یو شمیر نورو لوړ رتبه جنرالانو اوصاحب منصبانو ګډون درلود .

په غونډه کی درژیم داخلی وزیر دخوست دبیانیولو پلان وړاندی کړ اووی ویل : چی (۲۵۰۰۰) کسیزه قوه ، ۱۳۰۰ عرادی نقلیه وسایط ، زرهدار اوهم له ۲۰۰ الوتکوسره کولی شو چی دیو دقیق اومحتاطانه عملیاتو دمطالعی وروسته خوست بیرته ونیسو .

ده زیاته کړه چی دګردیز قواوی باید نوری هم قوی شی اودلوګر ،میدان اوغزنی په ولایتونو کی دی عملیات تر سره شی .

دکابل مجاهدینو خبری خپرونی دی ټکی ته هم اشاره کړی چی روسی پوځونو دلیری ویشتونکو وسلو څخه په استفادی سره دفاریاب ولایت دسراسیاب په سیمه کی دمجاهدینو مرکزونه تراوږلاندی نیولی اوهم روسی الوتکی دهغه ځای له میدانونو څخه الوزی اودمجاهدینو پر مرکزونو بمونه غورځوی .

خولدی سره سره مجاهدین توانیدلی دی چی دروسی پوځ اودهغوی دمزدورانو حملی شنډی کړی اوپه شایی وټمبوی .

له بلی خوا دکابل ښار حالات هم فوق العاده خراب شوی چی هره ورځ دمړو جسدونه په کوڅو اوجادو کی لیدل کیږی.بی امنیتی ، جبر او زور خپل وروستی حد ته رسیدلی چی لدی امله ددی ښار اوسیدونکی په تنګ شوی اوداحتجاج په توګه یی دکابل دګوډاګی رژیم څخه کرکه او نفرت ښودلی دی.

دمزدور رژیم دولتي دستګاه کې په روانو ګډوډیو اوبډو اخیستنو اعتراف

دخلق دبدنام ګوند مرستیال چی اوس یی نوم په وطن ګوند اړولی ، ویلی دی چی دګوند اودولت په دستګاه کی خپاره شوی فسادونه اوخود سری ډیری ستری ستونزی رامنځته کړی چی دبیماری سختی ریښنی یی ځغلولی دی .

دوطن ګوند درئیس مرستیال فرید احمد مزدك پدی ټکی اعتراف کړیدی چی ددولت په دستګاه کی پراخی اواوږدی بیروکراسۍ داسی نه منونکی فسادونه اوګډوډی راولاړکړی چی مخنیوی یی ډیر ګران کاردی.

ده وویل دولت زیات شمیر غیر ضروری کارمندان جذب کړی چی اصلاً هیڅ ضرورت ورته نه لیدل کیږی اونه داسی کارونه شته چی دوی یی ترسره کړی نوخپل وخت ددولت په غیبت تیروی چی دابه ددولت لپاره خطرناك کاروی .

په همدی توګه ددولتی ادارو دکارکوونکو روحیه راټیټه شوی اوپکی دبی تفاوتی حالت حاکم دی ګوډاګی رژیم پدی ویره کی دی که چیری دمامورینو شمیر کم کړی نودنوموړو مامورینو نارضایتی به لانوره هم زیاته اوستونزی به راولاړی شی.دمزدور رژیم مشر نجیب الله هم په یوه وینا کی دهیواد ګډی وډی اقتصادی وضعی ته چی دهمدوی له خوا رامنځته شویده ګوته ونیوله وپی ویل چی زموږ اوسنی خرڅ دعاید په میزان تقریباً دوه برابره دی چی داکارنورهم زموږ اتکا په روسیی باندی زیاتوی .

په سروبي کې ددښمن نظامي پوستې وځپل شوې

کابل ، میډیا :

میډیا دکابل له ولایت نه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دجوزا په ۱۷مه او ۱۸مه نیټه ددی ولایت دسروبی پرولسوالی باندی ددرندو وسلو سختی ډزی وکړی چی په نتیجه کی دنوموړی ولسوالی یوشمیر نظامی پوستی له منځه ولاړل شوی اوددښمن یوشمیر افراد یکې وژل شوی دی.

دخبر ځای دیو بل رپوټ له مخی مجاهدینو دجوزا په «۱٦» نیټه پرنوموړی ولسوالی باندی په یوبل برید کی پنځه تنه دخاد غړی مړه او اته تنه نوربی ټپیان کړیدی .

دملګرو ملتونو وړاندیز...

که څه هم دملګرو ملتونو په وړاندیزکی داسی څه نوی ټکی نه لیدل کیږی چی هغه ددی قضیی دمنطقی اوعملی حل په لار کی ممد ثابت شی خوددی مطلب څرګندونه ضرور وړاندی کوی چی دمجاهدینو دسپیڅلو اهدافو په دښمنی کی نړیوال استعمارله بل هروخته زیات سره یولاس شویدی حقیقت دادی چی دافغانستان ربړه هغه وخت حل کیدای شی چی دټولو بهرنیو ځواکونو له لاسوهنی پرته مجاهدین دیوداسی قوی او هراړخیزاتحاد په چوکاټ کی متحد شی چی وکولی شی دملت ټول اقشاراودمقاومت ټول اړخونه پکی برخمن وی اودملت داعتماد په څنګ په نړیواله سطحه هم قابل قبول شکل وړاندی کړی شی که څه هم دربړی دحل لپاره دمقاومت په داخل کی هم مختلفی طرحی وړاندی شوی چا دازانو او عمومی انتخاباتو اوچاهم دلویو جرګو پروګرامونه وړاندی کړی خو حقیقت دادی چی باید پدی غوروکړی شی چی ایا موجوده شرایط موږته دڅه ډول طرحی او اقدام دعملی کولو چانس او فرصت راکوی اودکومی طرحی اوپلان عملی لاره زموږ په وړاندی خلاصه پاتی ده دهمدغو ظروفو اوشرایطو دپه نظر کی نیولو له مخی الحاج مولوی جلال الدین حقانی دهغو افغانی پیلوټانو له یوی ډلی سره چی له مقاومت سره یوځای شوی په خپلوخبرو کی وویل : افغانانوته داسی کامل اوهراړخیز اتحاد په کاردی چی په هغه کی دهیواد علما ، منور ملی اواجتماعی شخصیتونه ، قومی مشران او مخور، جهادی قوماندانان،دتنظیمونو نمایندګان اوبادیانته روشنفکران برخه ولری

له همدغو کسانو څخه باید یوه شورا یا پارلمان جوړشی چی یوه موقته اداره جوړه کړی داځکه چی په موجوده شرایطو کی دانتخاباتو لپاره شرایط مساعد ندی په هیواد کی دانتخاباتو لپاره لومړی دسولی اوامنیت تامینیدل اودیوی داسی عبوری اداری جوړول ضروردی چی وکولی شی موجوده مشکلات رفع اودقدرت دانتقال عملیه ترسره کړی .

زموږ داخبری ددی معنا نلری چی مجاهدین دربړی دحل مخالفت کوی بلکی حقیقت دادی چی مجاهدین په هیواد کی دیوه داسی حکومت اونظام په تکل کی دی چی هغه ددغه ولس له ډوولس کلنو قربانیو سره اړخ ولګوی .

له همدی ځایه ویلی شو چی دافغانانو بشپړ وحدت خپله ددغه ربړی دحل اساسی قدم ګڼلی شی .

اوس که دمجاهدینو اهداف دخبرو اوډیپلوماتیکو فعالیتونو له لاری ترلاسه کیدای شی مجاهدین پدی رابطه هیڅ کوم تردید نلری که نه نو مجاهدین دخپلو حقه حقوقو اواهدافو دحصول په لارکی دجهاد تداوم مؤثره اوجایزه طریقه ګڼی .

مجاهدین دجنګ ددوام هیله من ندی بلکی داروس اودنجیب مزدور رژیم دی چی په افغان مسلمان ولس یی دغه خونړی جنګ تحمیل کړی -افغان مجاهد ولس لکه څنګه چی دجګړی په ډګر کی خپل صلاحیت وښود همداسی دسیاست اودیپلوماسی په میدان کی هم ددی توان او صلاحیت لری چی دښمن پرکړی .

دملګرو ملتونوطرحه په موجوده بڼه نشی کولی په افغانستان کی دجګړی مخه ونیسی پدی طرحه کی داسی مواد هم شته چی دهغی په خلاف افغان ولس دیارلس کاله ډوینو او اور په سمندرکی دمبارزی اومقاومت بیړی چلولی ځکه خو په هیڅ صورت په موجوده شکل ددغه وړاندیزدعملی کیدو اودهغی له پلوه دسولی او امنیت دټینګیدو امید اوتصور نشی کیدلی .

له همدی ځایه موږپه زغرده ویلی شو چی که واقعاً ملګری ملتونه غواړی دافغانستان ربړه دحل پړاو ته

٦ مخ کی

دبشپړبري په لارکې ...

زموږ مجاهد ملت ... په تش لاس ، خودایمان او عقیدې دکارنده وسلې په قوت اوبرکت دیولوی طاغوتي اوالحادي ځواك په وړاندې چې په هرډول مادي ، عصري اومدرنو وسلو سمبال ؤ ، دمقابلې دګرته وروډانګل ، اودپرله پسې ویاړمن مقاومت په نتیجه کې یې هغوی ته داسې شرمیدلې ماته ورکړه چې دنړۍ په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کیږي .

له افغانستان څخه دیرغلګرو روسي قواو په تیښته وتل اودروسانو دمزدورانو له تسلط څخه دهیواد په سلو کې د(۹۰) برخې خاوري ازادول او... هغه ویاړمنې کارنامې دي چې زموږ دمؤمنو مجاهدینو په لاس ترسره شوې.

اوس چې زموږ اسلامي انقلاب ، جهاد اومقاومت په ډیر کړاو له ستونزورو پړاوو بریمن راوتلي،دوښمیر عواملو یې بشپړ برۍ ځنډمن کړی دی،که څه هم دلته دهغو ټولو عواملو دڅیړنې اوسپړنې ګنجایش نشته ، لازمه بولو چې پردوومهمو عواملو یې ځغلنده کتنه وکړو.

ترټولو مهم اواساسي عامل چې په دې اوسنیو حساسو شیبو کې زموږ داسلامي انقلاب دوروستي برۍ په لارکې خنډدی ، هغه دجهاد دواحد سیاسي قیادت نه موجودیت دی ، دمتعددو جهادي قیادتونو اودهغوی ترمنځ خپل منځي اختلافاتو مسئلې خبره دې ځای ته رسولې چې دجهاد دسیاسي اونظامي بعد ترمنځ هماهنګۍ ته یې سخت زیان رسیدلی.

دجهاد نظامي ډګرخو دقوماندانانو دسرتاسري شورا په رامنځ ته کیدو ترزیاته حده منظم شوی،دجهادي قوماندانانو ترمنځ ارتباط ټینګ شوی اویوه واحده ستراتیژۍ رامنځ ته شوې ده چې دمتحدو اوهماهنګو عملیاتو په نتیجه کې دخوست ستره فتحه او دهیواد په شمال کې سویې زموږ ددې ادعا ډیرښه ثبوت دی،خودجهاد په سیاسي بعدکې دهماغسې داختلافاتو ، ځان غوښتنو او دقدرت غوښتنې بې ځایو هوسونو ، تیاری خپرې دي .

له اوسنی بحراني حالت څخه دجهادي قوتونو دراایستلو اوداسلامي انقلاب دبرۍ په اړه دجهادي قیادتونو په نظرونو اودریځونو کې دومره توپیر موجودی چې پرتلنه یې لویه ستونزه ده،نوپه سیاسي ډګرکې همدغه دنظرونو اودریځونو داختلاف موضوع زموږ داسلامي انقلاب دبرۍ اوسرمنزل ته دررسیدو په لارکې سترخنډ دی ، چې دروسانو دمزدور رژیم چې دمجاهدینو له خوا دمحاصرې اورانسکوریدو په درشل کې دی ، دپایښت شیې اوږدې یې اوږدې کړې دي .

بل مهم عامل چې زموږ داسلامي انقلاب برۍ یې له ځنډ سره مخامخ کړی هغه زموږ دانقلاب په وړاندې دشرق – غرب اوټولو کفري ځواکونو ګډ سازشونه دي ، چې نه غواړي په افغانستان کې دمجاهدینو په لاس یواسلامي حکومت جوړشي. کفري طاقتونه دمجاهدینو په لاس دیو اسلامي حکومت جوړیدل دځان لپاره خطر بولي ، نوپه بیلو بیلو بڼو اودتوطئو درامنځ ته کولو له لارې هڅه کوي چې زموږ په هیواد کې داسلامي حکومت دجوړیدو مخه ونیسي ، دغه توطئې که دجنیوا معاهدې دلاسلیك ترېږدې لاندې طرحه شوې اوکه دافغانستان دقضیې دسوله ایز حل په بهانه دملګرو ملتونو دپنځه فقرایز وړاندیز په نامه رامخې ته شوې اوکه ... هدف یې تري دجهادي قوتونو کمزوري کول،دجهاد په لیکو کې درکود اوسکوت حالت رامنځ ته کول اوپه افغانستان کې داسلامي حکومت دجوړیدو مخه نیول دي .

اوس چې زموږ داسلامي انقلاب برۍ له یوې خوا دخپل منځي اختلافاتو اوله بلې خوا دکفري اوطاغوتي ځواکونو دګډو سازشونو او توطئو له جدي خطراوګواښ سره مخامخ کړې دې دحالاتو تقاضا اوزموږ دمجاهد ملت غوښتنه داده چې زموږ جهادي مشران له خپل منځي اختلافاتو څخه لاس واخلي،دلوی خدای (ج) درضا او په افغانستان کې دمجاهدینو په لاس دیوسوچه اسلامي حکومت دجوړیدو په خاطرله ځانګړونظرونو اوجلاجلا دریځونو څخه تیرشي ، له خپل منځ څخه یو پیاوړی جهادي قیادت وټاکي ، یوازې په همدې وسیله،داسلامي انقلاب دبرۍ په وړاندې راولاړشوې خنډونه اوګنډونه له منځه تللي شي اویس .

ومن الله التوفیق

په سروبي او پغمان کې دمجاهدینو بریدونه

کابل ، دجوزا ۲۲ مه :

دمجاهدینو دبریدونو په اثر دکابل ولایت په سروبي اوپغمان ولسوالیو کې دکمونست رژیم دامنیتي پوستو دڅپلو په وخت کې درژیم یوشمیر پلویان وژل شوي او۵۰ نوریې دوسلو سره نیول شوي دي

دقوماندانانو دشورا نظامي دفترد کابل له ولایت څخه ریوټ ورکړي چې مجاهدینو دکابل ښار په لمر ختیزه دسروبي ولسوالۍ دچاروازکې په سیمه کې دکابل رژیم په پوستو باندې دجوزا په ۲۲ نیټه حمله وکړه چې پکې یوشمیر پوستې ویجاړ کړې شوې او ۵۰ تنه عسکریې دڅلور میله پیکاماشیندارو او څلور ار، پي ، جي اوه راکټونواو ۴۱ میله کلاشینکوفونو سره بندیان نیولي دي .

دغه شان خبرځای زیاتوي چې مجاهدینو دپغمان ولسوالۍ دشیرعلي غره اوسفیدخاك پرپوستو باندې په بیلابیلو بریدونو کې یو شمیر پوستې څپلې ۱۲ تنه عسکر یې وژلي اوډیر درانده تاوانونه یې کمونستي رژیم ته اړولي دي .

مجاهدینو ته پدې درې ورځنی بریدونو کې دسرزیان نه دی رسیدلی .

دکندهارښار پرپوستو دمجاهدینو بریالي بریدونه

کندهار، میډیا :

میډیا ، دکندهار ولایت دارغنداب دولسوالۍ څخه دیوه رادیویي پیغام په حواله ریوټ ورکړي چې دارغنداب ولسوالۍ مجاهدینو دکندهار ښار د «هندوچوك » پر امنیتي کمربندي پوستو باندې دښار په لویدیزه برخه کې دراکټونو پواسطه دجوزاپه ۲۲ مه نیټه یوه چریکي حمله وکړه ، چې په نتیجه کې ذکرشوې پوستې ویجاړې شوې اودوه تنه صاحب منصبان پکې ووژل شول .

دریوټ مطابق مجاهدینو پدې بریدونو کې درژیم څلور تنه عسکر دڅلورو میلو کلاشنکوفونو یو ار ،پي ، جي ، اوه راکټ اویوې پایې مخابرې سره په ولجه نیولي اومجاهدینو ته هیڅ زیان ندی وررسیدلی .

دغه راز خبر ځای دقندهار دولایت نه په یوبل ریوټ کې زیاتوي چې د ارغنداب ولسوالۍ مجاهدینو دجوزا په «۱۶ » مه نیټه ددرندو وسلو څخه په کار اخیستو دقندهار دښارپه شمالي خوا ددشت صوفي پر پوستو باندې برید وکړ ،چې په نتیجه کې دملحد رژیم ۸ تنه عسکر وژل شوي یو شمیر نور ټپیان شوي اویوه پایه (D.C) توپ له منځه وړل شویدی .

عملیات موفقانه مجاهدین درولایت وردک ومیدان

میدان شهر ، میدیا:

یك منبع جهادی به میدیا گزارش داد که مجاهدین ولایت وردگ ومیدان بروز ۱۷ جوزا بالای پوسته های اطراف میدان شهر مرکز ولایت وردگ حمله کرده که درنتیجه ۸ نفر از طرفداران رژیم را هلاك ۱۲ نفر دیگر رامجروح کردند .

گزارش می افزاید دراین نبرد پنج میل کلاشینکوف دومیل سلاح ثقیل و یك اندازه مهمات به غنیمت گرفته شد ، درراپور از تلفات جانی وخساراتی مالی مجاهدین چیزی گفته نشده است.

طبق یك گزارش دیگر مجاهدین به روز ۱۶ جوزا مرکزولایت مذکور راهدف سلاح ثقیل قرار دادند که دراثر ان پنج نفر ازافراد نظامی رژیم هلاك ۳ نفر زخمی دوعراده تانك محاربوی وسه عراده موتر حامل مهمات تخریب گردید .

دکندهار ښار په منزل باغ کې ددښمن یوه ډیپو وچاودیده

کندهار ، میډیا

په کویټه کې دمیډیا نمایندګی دکندهار ولایت نه ریوټ ورکړی چې مجاهدینو دکندهار ښارد منزل باغ د پنځم نمبر قواوپه مرکزي ډیپو کې دارتباطي وسیلو پواسطه دجوزا په ۱۹ مه نیټه یوبم ځای پرځای کړ چې لږه شیبه وروسته په چاودیدلو سره یې دوسلو اوګوله بارودو ذخیرې تباه اوداورلمبه شوې دي .

ریوټ زیاتوي چې پدې پیښه کې چې داورلمبې اودرزهار یې ترلرې ځایه ښکاریده دښارنې ۱۴ تنه عسکر اوملیشه وژل شوي ۱۹ ټپیان او ۲۳ میله دهاوان توپونه ۱۴ میله زیکایك ۲۳ میله دهشکې دزیات شمیر سپکو وسلو اونظامي اولوژستیکي مهماتو سره سوځیدلي اوپه شاوخواکې یې راکټونه غورځیدلي .

په چغچران کې مجاهدینو دمزدور رژیم قوه په شاوتمبوله

غور ، میډیا:

مجاهدینو دغور ولایت مرکز چغچران کې دکابل رژیم دقواو حمله په شاه تمبولې (۲۷)تنه عسکراوملیشه یې وژلي او(۶۰) تنه نور یې مجاهدینو ته تسلیم شویدي .

دغور ولایت څخه دیوه رادیویي پیغام په حواله ریوټ ورکړشوی چې مجاهدینو دغورولایت په مرکز چغچران دپای قمر په سیمه کې درژیم هغه قوه چې دمجاهدینو پر مرکزونو یې دجوزا په (۱۷) نیټه برید وکړ دسختې جګړې په نتیجه کې په شاه تمبولې (۲۷) تنه عسکراوملیشه یې وژلي اویوشمیرنوریې ټپیان کړیدي.

دخبر ځای دریوټ مطابق دچغچران مرکز په جنوب لویدیزه کې دکمونستي رژیم دشهرك دولسوالۍ (۶۰) تنه ملیشه د(۶۰) میله وسلې سره مجاهدینو ته داسلامي عفوې اوارتباط له مخې بې جګړې پناه وړې اودرژیم دظلم سره یې مخالفت څرګندکړی دی .

دهیئت تحریر ترنظر لاندې
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
تیلفون : ... ۸۱۲۲۵۱

درژیم پرقواوو دپغمان اووردګود مجاهدینو ګډ بریدونه

کابل ، دجهاد هنداري خبریال :

په پیښور کې دقوماندانانو شورا نظامي دفتر دوردګو اومیدان له ولایت اودپغمان له ولسوالۍ نه درادیویي پیغامونو په حواله ریوټ ورکړي چې دپغمان ، میدان او وردګو مجاهدینو په ګډه سره دجوزا په ۲۱مه نیټه دپل سرخ او شاه کابل په سیمو کې دکابل رژیم پرقرارګاو باندې برید وکړچې په نتیجه کې درژیم لس تنه ملیشه مړه یو زیات شمیر نور یې ټپیان شوي اوهم دښمن ته درانده مالي تاوانونه اوړیدلي دي .

ریوټ زیاتوي چې مجاهدینو پدې جګړه کې دمیدانښار دپل سرخ له قرارګاه نه درژیم ، څلور عرادې ټانکونه دیوې اندازې مهماتو سره ولجه کړیدي .

دخبر مطابق ددواړو خواو ترمنځ دوردګو اومیدان ولایت دپل سرخ بسراق اوشاه کابل په سیمو کې چې جګړه دیوې اونۍ راهیسې پیل شوې تراوسه پورې په سختۍ سره دوام لري .

بمباردمان طیارات روسی برمواضع مجاهدین

بادغیس ، میدیا :

روسها با بمباران مواضع مجاهدین درولایت بادغیس درسرحد روسیه به مداخله درامور داخلی افغانستان ادامه میدهند

میدیا بقول ازیك منبع مجاهدین گزارش داده است که طی عملیات مجاهدین برمواضع رژیم درولایت بادغیس واطراف شهر محاصره شده قلعه نومرکز این ولایت که ازبیست روز پیش اغاز شده ، طیارات روسی نیز ازخاك انکشور پرواز وبه بمباران مواضع مجاهدین ادامه میدهند .

بقول منبع مذکور عملیات ملیشه های رژیم نیز تحت قومانده اخترجان میرانزی علیه مجاهدین در اطراف شهر قلعه نوتحت چتر طیارات روسی ادامه یافته است.

منبع می افزاید درجریان درگیری مجاهدین باملیشه های یادشده بتاریخ ۱۹ جوزا ۶۰ ملیشه به اسارت گرفته شده اند .

درعین حال ۲۰۰ نفر ازافراد ملیشه بروز ۱۸ جوزا درجریان درگیری مجاهدین وحامیان رژیم درمنطقه مقردرجنوب ولایت بادغیس به مجاهدین تسلیم شده اند .

جنگ های شدیدی میان مجاهدین وقوای رژیم در ولایت بادغیس که از ۲۰ روز پیش اغاز شده است همچنان ادامه دارد .